

# د فرخندې په وينو ککړې جامې د بنسټپالانو او نیواکګرو پر وړاندې د مبارزې بیرغ کړو!

په کابل کې د فرخندې د وژل کیدو له ویرونکې ورځ یو کال تیر شو چې نه یواځې زمونږ ولس بلکه ټوله نړۍ یې په هیبت او ویره کې ډوبه کړه. خو د کرغیړنو واکمنانو ناولو وجدانونو هیڅ ټکان ونخوړ او تر اوسه اصلي وژونکي او د هغوی ملاتړي د عدالت له منګولو څخه بهر دي او په تیر یو کال کې په ګڼو چارو هڅه وشوه چې زمونږ د وخت د تاریخ په زړه‌بوږنونکې ځناورتوب پرده واچول شي.

د فرخندې پر وړاندې د جنایت ترسره‌کونکو د دوهمې درجې عاملانو له ملنډو ډکې ښکاره او پټې محاکمې زمونږ د خبرو ریښتینولي په ډاګه کړه چې د داسې ځناورتوب ترسره کول په دولت کې د شته جنایتکارانو له ملاتړه پرته ناشوني دي. ددغې زړه‌بوږنونکې پیښې ترشا هغوی شتون درلود چې غوښتل یې یوځل بیا د کابل د خونړیو جګړو یادونه د کابلیانو په ذهنونو کې تازه کړي او په دې توګه خلک چوپتیا او درناوي ته اړ باسي. خو د فرخندې وینې د توراندو ځناورو نقاب څیرې کړ او له کلونو وروسته د لومړي ځل لپاره زمونږ خلک د نیاوو غوښتلو لپاره د بنسټپاله ځناورو پر وړاندې راولاړ شول.

د «افغانستان همبستګۍ ګوند» د آزادۍغوښتونکو انسانانو په مرسته او د شهید فرخندې د ټوټه-ټوټه کونکو ملاتړو د مخالفت او خنډ جوړوني پر وړاندې ودریدو سره په دې وتوانیده چې د هغې په یاد دغه څلۍ جوړه کړي ترڅو د ښځو ضد ویجاړونکو او رټل شوو پر وړاندې، د یو آزاد او سمسور افغانستان چې له هر ډول تبعیض او شډلتیا څخه پاک وي، د ښځو او سړو کوکارو تلپاتې انګازه وي.

د **«افغانستان همبستګۍ ګوند»** یو واری بیا پر ټولو کړیدلو خلکو او آزادۍغوښتونکو عناصرو باندې غږ کوي چې د فرخندې وینه د هر شرافتمند افغان وجدان دی، پرې‌نږدو چې خاینان زمونږ شرف تر پښو لاندې کړي. که د فرخندې په اړه عدالت په ریښتیني توګه پلی نشي، نور به ددې خاورې هیڅ ښځه او لور په امن کې نه وي. بنسټپاله جنایتکاران او د هغوي په اصطلاح روڼ‌آندي چوپړان هڅه کوي ترڅو زمونږ خلک د فرخندې، رخشانې، تبسم او ددې خاورې زرګونو نورو ښځو او سړو پر وړاندې ددوي ځناورتوب له یاده وباسي، خو دا زمونږ دنده ده چې د فرخندو له وینو ډکو جامو د عدالت‌غوښتنې بیرغ کړو څکه چې سوله او ټیکاو او نیکمرغي د یوې حق‌غوښتونکې سربښندنې پرته نه ترلاسه کیږي.

## د افغانستان د همبستګۍ ګوند

۱۳۹۴ کال د کب ۲۷مه – ۲۰۱۶ کال د مارچ ۱۷مه
کابل

+93 700 23 15 90 | info@hambastagi.org | www.hambastagi.org | facebook.com/hambastagi